محمد اجمل زرمتی
۲۰۱۲/۰۱/۲۴

# د سولی په پلوشوکی

سوله یو الهی موهبت ده. په هغه ټولنه کی چی سوله نه وی نو هغه ټولنه له راز راز بد بختیو سره مخا مخ وی. یو متل ده چه وایی د عا فیت په قدر هغه څوک پوهیږی چه په مصیبت دچار شی رینتیا هم د سولی په ارزښت یوازی هغه خلک او ټولنی ښی پوهیږی چه په جنګ کی ښکیل وی. زموږ ګران هیواد او زموږګران وطنوال له دریو لسیزو را په دیخواپه جنګونوکی ښکیل کړشوی دی او په نتیجه کی یی په ملیونو نو کسان شهیدان, په سلهاوزره یتیمان, معیوب اوبی کوره شول موږ یا نه پوهیږو او یانه غواړو چه وپوهیږو چه جنګ د څه لپاره, څوک په دی جنګ کی مری او څوک په دی جنګ کی ګټه پورته کوی ولی تر ډیره حده دا جنګونه په موږ باندی تپل شوی دی چی ګټه یی نورو خلکو ته رسیږی.

وایی چه په هر وخت کی کب له اوبو ونیول شی تازه ده نو زموږ هیواد چه دری لسیزی د جنګ په لمبو کی وسوځل شو او کنډواله شو اوس هم که دسولی لپاره کار ونشی او د جنګ مخه و نه نیول شی نور به هم وسوځل شی او نور به هم کنډواله شی نوهر څومره ژر چی کیدالی شی باید د سولی لپاره په ډیر زړه سوی او د شخصی ګټو څخه په تیریدو سره کاروشی او د دی بی ګټی جګړی مخه ونیول شی. د دی جګړی نوره بدبختی لا هم په دی کی ده چه دواړو خواوته افغانان وژل کیږی. او ګټه یی نورو خلکو او هغو هیوادوته رسیږی کوم چی غواړی افغانان او افغانستان د دنیا له نقشی څخه وکاږی او د خپلو هیوادو سره ئی ضمیمه کړی.
د سولی مخا لف قطب جنګ ده په جنګ کی بدبختی, په جنګ کی لوږه, ژوبله, مرګ او نا داری وی. په جنګ کی دین، اقتصاد او ملی ارزشتونو ته زیان رسیږی.

زموږ په مقدس کتاب کی هیڅ داسی لارښونه نشته چه موږ جنګ ته تشویق کړی بلکه د کائناتو لوی رب موږ ته لارښونه کوی چه با ید سوله وکړو ځکه په سوله کی خیر ده . لکه چی الله پا ک وایی "الصلح خیر" یعنی په سوله کی خیر ده که موږ دی پاک ایت ته پاملرنه وکړو نو الله پاک سوله دهر څه نه پورته بللی او دهیڅ شی سره یی نه ده پرتله کړی بلکه وایی چه په سوله کی خیرده.

الله پاک یوازی موږ ته د جهاد آمر کړی هغه هم پداسی وخت کی چه زموږ دین او اسلامی مقدساتوته خطر وی نو بیا وایی چه د ځانه دفاع وکړی او هیڅ داسی ایت نشته چه الله پاک ووایی چه جګړه وکړی نو که زموږ خیر په سوله کی ده نو بیا ولی جنګ وکړو.+

خدای پا ک حرص او افراط حرام بللی د جګړو عمده دلایل همدا دو شیا ن کیدالی شی اکثراً جګړی دمال او قدرت د زیاتوالی په خاطر کیږی چه په اسلام کی حرام بلل شوی نوکه موږ مسلمانان یو چی الحمدالله یو نو باید سولی ته په ډیره مینه او اخلاص کاروکړو تر څو له یو ی خوا موږ د لوی رب له او امر و سر کشی نه وی کړی او له بلی خوا مو خپل خلک او ټولنه نه وی نا آرامه کړی .په ۲۱ پیړی کی خلک ستورو او اسمانونو ته د ختلو پلانونه جوړه وی او کوښښ کوی تر څو د خلکو ژوند د ښه شرایطو په برابرولو سره اوږد شی ولی موږ په خپل هیواد کی د ورانولو پلانونه جوړه وه. او د کائناتو د لوی رب له  او امرو سر پیچی کوو.

پوهیږو چه سوله د یو کس کار نده سوله په ګډه کار غواړی سوله د نورو حقوقو ته درناوی غواړی سوله ګذشت غواړی سوله د امتیاز د راوړلو لپاره نوروته امتیاز ورکول غواړی, سوله عدالت غواړی, سوله اسلامی اوامروته غاړه کیښودل غواړی که موږ هر څه د ځان لپاره و غواړو نو سوله نشی راتللی که موږ خپل حقوق غواړو خو د نورو حقوق نه پیژنو نو سوله نشی راتللی. زه په اخر کی د یو ځوان په حیث له ټولو ځوانانو څخه غواړم  چی  راځی چه ټول په ګډه سره د سولی لپاره کار وکړو تر څو خپل وطن اباد کړو او د نوروورانیو او بدبختیو مخه ونیسو.
که سوله را نشی ورکیږو , تباه کیږو  او محوه کیږو.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ